PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

ای مؤمنانو! د سړیو کومه ډله دې په نورو سړیو ملنډې ونه وهي کېدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي، او نه دې ښځې پر نورو ښځو ملنډې وهي، کېدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي. او هم یو د بل بد مه یادوئ او یو بل ته بد لقبونه مه ږدئ. له ایمان راوړلو وروسته د فسق نوم یادول ډېر بد کار دی. او هر څوک چې له دې وانووښت نو همغوی لوی ظالمان دي. (الحجرات ۱۰ – ۱۱ آیتونه)

درس حدیث

له حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
کوم سړی چې د روژې د میاشتې یوه روژه هم له څه شرعي رخصت او ناروغۍ پرته وخوري نو که ټول عمر هم روژه ونیسي نو د روژې د میاشتې د یوې ورځې روژې بدل هم نه شي پوره کولی. (ابوداود، ابن ماجه، ترمذی)

شهادت دریم کال، ۲۰ مه گڼه، پرله پسې ۱۲۰ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د زمری ۱۹ مه د۱۴۳۲ هـ ق د رمضان ۱۰ مه د۲۰۱۱ م د آگست ۱۰ مه

ښايي امريکا بله لسیزه هم له القاعده سره په جګړه اخته وي

امریکا، رسنی:
د امریکا د دفاع نوي وزیر تېره میاشت وویل چې د القاعده شبکې ماتې رانژدې شوې ده، خو داسې ښکاري چې دا شبکه اوس د واحد مرکزیت پرځای په وړو څانگو وېشل شوې او تر پخوا یې فعالیت هم خطرناک شوی دی.
د امریکا د ترورېزم ضد هلو - ځلو د بنسټپالو غورځنگونو هڅې کمزوري کړي، د امریکا د دفاع وزیر لیون پنیټا ویلي چې د القاعده شبکې ماتې رانژدې شوې ده.
فارن پالیسي خپرونه لیکي:
په تېره لسیزه کې دغه گواښ د هغه سازمان له لوري متوجه و، چې منظمه رهبري یې درلوده، خو اوس یې ښه بدلون شوی او اوس دا سازمان پر انټرنېټ راڅرگند شوی دی. دغه خوره وره پدیده نور د پاکستان د عالي رتبه چارواکو لاربښوونو ته اړتیا نه لري.
بې له شکه چې د اسامه بن لادن وژنه القاعده ته یوه لویه ماتې گڼل کېږي، چې د هغه لپاره د یوه مناسب ځاناستي پیدا کول سخت کار دی. د امریکا د

پاتې ۴ مخ

ما به تلاش های خود در افغانستان ادامه خواهیم داد و پیروز خواهیم شد "اوباما"

کابل، رسانه ها:
رییس جمهور امریکا در اشاره به سقوط هلیکوپتر نیروهای ناتو و کشته شدن ۳۰ سرباز امریکایی در میدان وردک گفت، این حادثه جلو تلاش های امریکا در افغانستان را نخواهد گرفت.
اوباما در قصر سفید ابراز داشت، این را می داند که نیروهای امریکایی به انتقال مسولیت های امنیتی به نیروهای افغان ادامه خواهند داد تا این اطمینان حاصل گردد که افغانستان بار دیگر به لانه تروریستان مبدل نشود. رییس جمهور اوباما گفت، ما به تلاش های خود در افغانستان ادامه خواهیم داد و پیروز خواهیم شد.
رییس جمهور امریکا بارک اوباما به روز یکشنبه در یک تماس تیلفونی با رییس جمهور کرزی، با وجود کشته شدن ۳۰ سرباز امریکایی در سقوط هلیکوپتر در شرق افغانستان، روی همکاری های کشورش با افغانستان تاکید کرد.
رییس جمهور کرزی در جریان صحبت با همتای امریکایی اش تاثر

بقیه در صفحه ۴

وزارت امور مهاجرین:
طرح جدید ایران برای اخراج مهاجرین افغان قابل قبول نیست

هرات، پژواک:
طرح مشروط ایران برای بازگرداندن مهاجرین غیرقانونی افغان به افغانستانو بازگشت دوبارهٔ آنها به ایران،با مخالفت وزارت امور مهاجرین کشور مواجه شد.
بر پایهٔاین طرح؛ که "تعیین تکلیف" نامیده میشود، مهاجرین غیرقانونی مکلف شده اند خود را به دولت ایران معرفی کنند و با دریافت کارت شناسایی؛ به افغانستان برگردند.
وزارت داخلهٔایران، با نشر اطلاعیه ای اعلام کرد که دارنده گان این کارت، میتوانند به قنسولگری های ایران در افغانستان مراجعه کنند و با دریافت ویزه، دوباره به ایران برگردند و به شکل قانونی زنده گی کنند.
اما اسلام الدین جرئت، رئیس اطلاعات و ارتباط عامهٔوزارت امور مهاجرین، به آژانس خبری پژواک گفت که دولت افغانستان، هرگز دراین راستا با ایران موافقتنامه ای نداشته است و ایران نمیتواند به

بقیه در صفحه ۴

دامریکا اقتصادي رتبه له AAAنه AAته راټیټه شوه

امریکا، رسنی:
د نړۍ مشرانو د امریکا د اقتصادي اعتبار د رتبې له ټیټېدو او په ایرو زون کې له روان مالي بحران سره سم هڅې پیل کړې څو مالي بازارونو ته بیرته ارامتیا وبخښي.
د سټندرډ اینډ پورز په نوم د اعتبار سنجولو موسسې په تازه اقدام کې د جمعې په ورځ د امریکا د اقتصادي اعتبار رتبه له درې (AAA) گانو څخه مثبت دوه AAته راټیټ کړ.
دا اقدام د تیرې اوونۍ په وروستیو کې وشو چې په نتیجه کې یې په امریکا کې د اقتصادي کمزورۍ وضعیت د احیا او په اورپا کې د پورونو د بحران د پراختیا په باب د اندیښنو له امله د نړۍ د اسهامو د بازار ارزښت زرگونه ملیارده ډالره راټیټ شو.
دا اندیښنې د دوشنبې په ورځ د نړۍ د اوو صنعتي هیوادونو له خوا د بیانیې د صادرېدو سبب شوې چې په کې راغلي، غړي هېوادونه د نړیوال بازار د

پاتې ۴ مخ

په راتلونکې یوه میاشت کې د روغتیایي خدمتونو د فیس د مقررې د جوړېدو خبر ورکړل شو

کابل، پژواک:
د افغانستان د عامې روغتیا وزارت وایي چې په راتلونکې یوه میاشت کې به د روغتیایي خدمتونو د فیس مقرره جوړه او د وزیرانو شورا ته به وړاندې شي.
دا په داسې حال کې ده، چې د عامې روغتیا وزارت په ۱۳۸۵ کال کې پژواک خبري اژانس ته ویلي و، چې د روغتیایي خدمتونو په بدل کې د فیس اخیستو په لایحه کار کوي او ژر به یې د وزیرانو شورا ته ولېږي.
خو د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو مرستیالې ډاکټرې نادرې حیات برهاني نن په کابل کې خبریالانو ته وویل، چې دا مهال د عامې روغتیا د وزارت یوه تخنیکي ډله له عدلیې وزارت سره په گډه پر یاده مقرره کار کوي.
نادره حیات په دې اړه چې ولې له ۱۳۸۵ کال څخه تراوسه یاده مقرره نه ده جوړه شوې، څه ونه ویل؛ خو د دې وزارت یوې سرچینې چې نه یې غوښتل نوم یې څرگند شي، پژواک ته وویل، چې د دې مقررې کار د مقررې په اړه د عامې روغتیا او عدلیې وزارتونو ترمنځ د یو لړ اختلافونو له امله ځنډېدلی دی.
ده وویل، دی اوس هم تمه نه لري چې دغه مقرره دې په یوه میاشت

پاتې ۴ مخ

بیا نو د بې ثباته کولو کوښښ ولې!؟

دویم مخ

جنرال الن: د با ثبات او خپلواک افغانستان لپاره به خپلو هڅو ته دوام ورکړو

کابل، پژواک:
په افغانستان کې د ناټو ځواکونو عمومي قوماندان وایي، چې د یوه با ثبات او خپلواک افغانستان لپاره به خپلو هڅو ته ادامه ورکړي.
د ناټو ځواکونو عمومي قوماندان جنرال الن پرون دغه څرگندونې په هغو مراسمو کې وکړې، چې د وژل شویو امریکایي سرتېرو د مړو د استولو پر مهال په کابل کې جوړ شوي وو.
۳۰ امریکایي او اوه افغان ځانگړي ځواکونه تېره اونۍ د میدان وردگو په سیداباد ولسوالۍ کې د وسلوالو طالبانو له خوا د یوې چورلکې د ویشتلو په پېښه کې وژل شوي وو.
په یاده پېښه کې د وژل شویو امریکایي سرتېرو د مړو د لېږد لړۍ تېره ورځ له بگرام هوایي ډگره امریکا ته پیل شوه.
په افغانستان کې د ناټو ځواکونو عمومي قوماندان د مړو د لېږد پر مهال په خپلو څرگندونو کې وویل: "زه دلته د دې لپاره راغلی یم چې، خپلو امریکایي او افغان هغو سرتېرو ته، چې څو ورځې مخکې یې خپل ژوند په افغانستان کې د ازادۍ، خپلواکۍ او

پاتې ۴ مخ

انکشافات جدید در مورد تقویه پروسهٔ صلح

اعزامی

همزمان با آغاز خروج تدریجی نیروهای خارجی از ماه جولای سال روان از افغانستان و انتقال مسؤلیت های امنیتی هفت ولایت از نیروهای خارجی به نیروهای داخلی؛ سرو صداهای برگزاری کنفرانس دیگری، در شهر بن آلمان و بالاخره حذف اسمای ۱٤ نفر از فعالین طالبان از لست سیاه شورای امنیت ملل متحد، انکشافات جدیدی در عرصه تقویه پروسه صلح به شمار می روند. مطابق ستراتیژی از قبیل اعلان شده بارک اوباما، اولین دسته ٦٥٠ نفری سربازان امریکایی اخیراً از میدان هوایی بگرام، بصوب کشور شان پرواز کردند، البته این سلسله ادامه می یابد و تا سال ۲۰۱۲ م ۳۲ هزار سرباز امریکایی خاک افغانستان را ترک می کنند. سایر اعضای ناتو نیز بهمین تناسب نیروهای شانرا کاهش می دهند و تا سال ۲۰۱٤م تمامی سربازان ناتو از افغانستان خارج می شوند. کانادا تمامی ۳ هزار سرباز خود را در ظرف چند روز از جنوب افغانستان به یکبارگی خارج می کند و در عوض به تعداد هزار نفر از مربیان نظامی اش را صرف غرض آموزش نیروهای اردو و پولیس افغان، توظیف می نماید.

بقیه در صفحه سوم

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

محرومیت کودکان و نوجوانان تاجک از رفتن به مساجد

ملت مسلمان تاجک چه در برابر امپراتوران تزاری روس و چه در مقابله با ظلم و نارواى ستالین دیکتاتور بزرگ قرن بیستم مقاومت دلیرانه از خود نشان داده و اسلام عزیز را در قلوب ابنای خود حفظ نموده است، در حالی که نظام جبار ستالین و شوروی وقت بنام مبارزه با ادیان اسلام ستیزی را به حدی رسانید که مساجد را به موزیم ها و مراکز تورستی مبدل نموده بودند اما اسلام را از قلوب مردم زدوده نتوانستند و با شکسته شدن زنجیرهای استعمار سرخ و زوال اتحاد جماهیر شوروی سوسیالستی نهضت برومند اسلامی تاجکستان در صحنهٔ سیاست آنکشور اعلام موجودیت کرد.

اکنون نظامیکه بخواهد بخاطر خوش ساختن خاطر متحدان ملحد و یا جلب همکاری لبرالیست های غرب به ۹۹ فیصد مردم خویش ستم روا دارد که فرزندان شانرا از رفتن به مساجد منع نمایند و مانع فراگیری تعلیمات دینی و عقیدتی آنها شوند، آیا این جرم بدون استعمال زور و سرنیزه ممکن است عملی شود؟ جهانی که بخاطر سرکوبی اسلام در برابر نقض بزرگترین حق آزادی انسانها (حریت دینی) خاموشی اختیار و یا در پس پرده چنین حکام را تأیید و ترغیب هم بنمایند آیا ناقض صریح حقوق بشر نیستند؟

مسؤلیت عواقب ناگوار عکس العمل ملت ها بدوش چه کسی خواهد بود؟ این محرومیت بالآخره به طوفان مبدل نخواهد شد که از آن افراط گرایی و عکس العمل های مسلحانه تغذیه گردد. مگر امام علی رحمانوف فکر نمی کند که سی سال حسنی مبارک به سرزمین مهد تمدن ها با زور سرنیزه قانونی را تحمیل کرده بود که باید پنج نفر در یکجا جمع نشوند مگر روزی فرا نرسید که بجای پنج نفر اجتماع پنج میلیونی انسانهای به ستوه آمده به نظام، قانون و دیکتاتوریی حسنی مبارک خاتمه داد.

آیا بیش از سی سال را خانوادهٔ اسد با تحمیل حالت اضطرار بر ملت مسلمان سوریه با غرش توپ و تانک قتل عام و اختناق نظام جمهوری میراثی را فرض نگردانیده بود؟ آیا وضع قانون حالت اضطرار میتواند جلو مظاهرات میلیونی مردم مسلمان سوریه و قیام ملت ها را در برابر نظام های دیکتاتوری علی عبدالله صالح و معمر القذافی در یمن و لیبیا بگیرد.

امام علی رحمانوف در برابر تعلیمات والای اسلام چه بدیلی میتواند تقدیم ملت ۹۹ فیصد مسلمان تاجکستان بنماید که کودک تاجک از طفولیت تربیهٔ گهربار اسلام را فرا نگیرد و از امام مسجد اسلام را نیاموزد پس به کدام جنگل رو آورد تا درنده گی را بیاموزد.

روح طفل زمانی از تربیهٔ اسلامی سیراب نه شود صلح و صدق و صفا، حقوق والدین، حقوق همسایه، حقوق زوجین، احترام به هم سن و سال رحمت بر کوچک و حرمت گذاشتن به بزرگ را در سرشت خود جا ندهد، امام علی رحمانوف چه کتابی تألیف کرده که مدعی و ما ادعوکم إلا سبیل الرشاد گردیده است.

هرگاه معامله یک رئیس جمهور با معتقدات مردمش در تصادم باشد که اطفال و نوجوانان کشور خود را از فراگرفتن الفبای دیانت شان محروم سازند و کشورهای اسلامی (اعضای کنفرانس کشورهای اسلامی) بنابر کمی و کاستی های خودشان مهر سکوت را بر دهان زده باشند و جامعه جهانی و مدعیان حقوق بشر این نقض صریح را مغرضانه و با سبک سری به بی تفاوتی گیرند و زبان اعتراض نگشایند آبی است که بر آسیاب افراط گرایی و به اصطلاح خود شان تروریزم می ریزند.

زمانی جوانان یک ملت به سایر تخصص ها بی میل باشند و همه به اسلام شناسی و تخصص در اسلام رو آورند راه حل بستن راه مساجد بر کودکان نیست. یک دولت میتواند راه های تشویق دیگری را برای سایر تخصص ها در پیش گیرد.

چنانکه همین اکنون در کشور ما بخاطر تشویق جوانان به لسان انگلیسی و کمپیوتر شاید کسانی را که حدود اربعه کشور خود را هم ندانند و از فهم تاریخ معاصر وطن ما هم به کلی بی بهره باشند در مقامات بلند دولت جا میدهند، دولت تاجکستان هم بجای دین ستیزی راه های معقول دیگری را برای حل مشکل ملی خویش در جهت پرورش علوم عصری در پیش گیرد. و ملت خود را نه به عصیان وادارد و نه به مخفی کاری.

بیا نو
د بې ثباته کولو کوښښ ولې؟!

عبیدالله صافي

د پاکستان ولسمشر آصف علی زرداري او صدراعظم یوسف رضا ګیلاني څو څو ځلي دا خبره کړې چې خپلواک، باثباته او امن افغانستان د پاکستان په ګټه دی، موږ غواړو چې په افغانستان کې امن وي او د امن د ټېنګېدو لپاره له افغانستان سره هر ډول مرستې ته تیار یو.

ډېر د افسوس ځای دا ده چې په اوسني زمانه کې د هېوادونو ولسمشران او نور لوړ پوړي چارواکی د بازاریانو په څېر شوي دي، ژمنې او وعدې خو ډېرې کوي مګر د عمل په ډګر کې هېڅ نه کوي. پښتو به چې د هېواد ولسمشر او نورو لوړ پوړو چارواکو کومه ژمنه وکړه نو پر هغه به عمل کېده او هر چا به لیده چې دهغوی پر ژمنو وفا کېږي او ستونزې له منځه ځي مګر اوس دهغوی خبرې د عامو وګړو له خبرو نه زیات اهمیت نه لري او نه هم څوک وربانديې زړه تړي.

دا متل رښتیا دی چې کله یو انسان خام شي هغه بیا نه پخېږي، په اوسني زمانه کې ولسمشران او نور لوړ پوړی چارواکی هم دومره خام شوي چې زیاتره خلک دهغوی خبرو ته غوږ نه ږدي او که کېږدي نو بیا د عملي کېدو باور وربانديې نه کوي ځکه چې هغوی هر وخت دومره ډېر دروغ ویلي دي چې دهغوی وزن او اهمیت یې له منځه وړې، که نه دا څنګه کېدلې شي چې د یو هېواد تر ټولو زیات واک او صلاحیت لرونکی شخص خبرې او ژمنې دې دومره بې ارزښته شي چې خلک دهغوی له اوریدو څخه هم ډډه وکړي.

پاکستان، ایران، هندوستان، روسیه او نور د سیمې هېوادونه د اوږدې مودې راهیسې ددې خبرې بیا بیا ډاډ ورکوي چې په افغانستان کې د امن راوستلو لپاره بشپړ مرسته کوي او نه غواړي چې د افغانستان ثبات او استحکام درې ورې شي، باثباته او مستحکم افغانستان زموږ په ګټه دی. د افغانستان ولس هم په وار، وار له هغوی نه پوښتنه کوي چې که واقعاً ګاونډي هېوادونه په افغانستان کې د سولې او ثبات په راوستو کې رښتوني دي او باثباته افغانستان د خپلو هېوادو په ګټه بولي نو بیا په افغانستان کې سوله ولې نه راځي د جنګ جګړې اور ولې نه مړ کېږي؟ د امن او ثبات د دښمنانو ترشا څوک ولاړ دي، څوک ورته پناه ورکوي او دچا له خوا تمویلېږي؟ د افغانستان جنګ ځپلی ولس نه پوهېږي چې ګاونډیان په افغانستان کې څه ډول ثبات او استحکام غواړي، له باثباته او مستحکم افغانستان څخه د هغوی څه مطلب دی؟ که دهغوی مطلب له مستحکم افغانستان څخه همدا وي چې هلته د جنګ جګړې اور مړ شي او هلته امن خپلې وزرې خورې کړي نو بیا دا خو د ګاونډیانو د کیڼ لاس کار دی، په کومه ورځ چې دوی خپلې لاسوهنې بندې کړي نو په همغه ورځ به په افغانستان کې سوله او امن راځي.

په افغانستان کې د جنګ ژرنده د ګاونډیانو په اوبو ګرځي که هغوی خپلې اوبه بندې کړي نو د جنګ ژرنده په همغه ساعت کې ودرېږي.

ګاونډیان دې خپل دا جرم او غلطي ومني چې افغانستان د همدوي د بدنیتی په اور کې سستي شوی لومړی روسیه چې د منځنی آسیا د هېوادونو له نیولو وروسته د افغانستان نږدې ګاونډي و په افغانستان کې د داؤد خان د حکومت په پرزولو او د خپلو کمونستي ګوډاګیانو په مسلط کولو سره د افغانانو ترمنځ د جګړې اور بل کړه او بیا پر افغانستان د بشپړ تسلط د ترلاسه کولو په خاطر یې پوځي یرغل وکړ او افغانستان عملاً د جنګ پراخ ډګر وګرځید، د لسو کلو د جګړو په اوږدو کې د لکونو افغانانو د قربانی په برکت روسي یرغلګر پوځ له پشپړی ماتې وروسته له افغانستانه ووتل، پکار خو دا و چې ګاونډیانو د افغانستان له جنګ ځپلي ولس سره په زړه پورې صادقانه مرستې کړې وای تر څو افغانستان د امن او استحکام زانګو جوړ شوی وای، کومه خبره چې ګاونډیان اوس کوي او وایي چې یو باثباته او مستحکم افغانستان د ګاونډیانو په ګټه دی ددوی دا مقصد په همغه وخت پوره شوې و، خو له بده مرغه دوی د افغانستان د ثبات او استحکام د قوي کولو پر ځای دهغه دړنګولو لپاره متې راونغاړلې، امریکا هم پینځې رابډی ووهلې چې په افغانستان کې د اسلامي حکومت د قیام مخه ونیسي او هغه مجاهدین له اقتدار نه لرې وساتي چې د روسانو او دهغوی د ګوډاګیانو په ختمولو کې ستر رول لوبولی و، هر چا د خپل هوس او لالچ اسونه وزغلول، هېچا د افغانستان په بې ثباته کولو کې صرفه ونکړه، چې بالاخر د هوس او لالچ په دې سیالی کې افغانستان یو ځل بیا د بهرنیو ځواکونو اډه وګرځید، د جنګ او جګړې په سور تنور بدل شو، یوازې افغانستان نه چې ګاونډي او دسیمې هېوادونه هم له ګوابښ سره لاس او ګریوان شول اوس نو که ګاونډیان ددغه اور د مړه کولو لپاره د زړه له اخلاصه ملګرتیا او مرسته ونکړي نو لېرې نه ده چې په افغانستان کې د جګړې دغه بل شوې اور ګاونډیو او سیمو هېوادو ته سرایت وکړي او هغوی هم د افغانستان په سرنوشت اخته شي.

دا واقعیت باید ومنل شي چې د افغانستان استحکام او ثبات د ګاونډیانو له صادقانه مرستې سره تړل شوې که هغوی په افغانستان کې د خپلو ګټو او اثرو رسوخ د پرمخ وړلو د مسابقې پر ځای د باثباته افغانستان د قیام لپاره له اخلاص نه ډکې صادقانه مرستې وکړي نو له څه شک پرته دغه مقصد به په آسانی ترلاسه شي. د بهرنیو ځواکونو د شتون دا بهانه به هم له منځه لاړ شي چې هغوی افغانستان ته د ترهګرو د ځپلو او په افغانستان کې د امن او ثبات د قیام لپاره راغلي دي، که ګاونډي هېوادونه واقعاً له افغانستان سره د پیشو او موږک لوبه پریږدي او پخپل ځنګ کې د یو مستحکم افغانستان زغملو ته چمتو شي نو په افغانستان کې به د بهرنیو ځواکونو لپاره د پاتې کېدو هېڅ جواز او دلیل پاتې نشي.

افغانان د پښوا په څېر راتلونکی لپاره هم خپلو ګاونډیانو ته ډاډ ورکوي چې د افغانستان خاوره به کله هم دهغوی په خلاف نه استعمالېږي بلکې د متقابله احترام پر بنسټ به له بل هر چا نه له خپلو ګاونډیانو سره د دوستی اړیکې پالي، خو دا واقعیت دی خامخا ومني چې مستحکم او باثباته افغانستان د ګاونډیانو له صادقانه مرستې پرته نشي منځ ته راتلې.

که هغوی باثباته افغانستان د خپلو خپلو هېوادو په ګټه ویني نو بیا دې رامخکې شي او په دې لاره کې دې نه ستړی کېدونکی ګامونه اوچت کړي. إن شاء الله افغانستان به هم د امن او ثبات خاوند کېږي او ګاونډیو هېوادو ته به یې هم ګټه رسېږي که نه نو هغه وخت دې لېرې نه ګڼي چې یوه ورځ به خامخا ګاونډیان هم د افغانستان په څېر د بې ثباتی په لومه کې راګیر شي تریکی به وهي خو وتلې به ترېنه نشي.

امریکا غواړي افغان دولت دې دهغوی هره غوښتنه ومني

ډېرې خبرې مې په زړه وې

عبدالله "کامه وال"

نشنل انټرسټ خپرونې د زلمي خلیلزاد په قلم یوه لیکنه خپره کړې ښاغلی خلیلزاد چې پخوا په افغانستان، عراق او ملګروملتو کې د امریکا سفیر و، په دې لیکنه کې د افغانستان پر وروستیو قتلونو د اندېښنې له څرګندولو وروسته د افغانستان او امریکا په اړیکو کې د اصلاحاتو غوښتنه کړې او ویلي یې دي، که د امریکا او افغانستان اړیکې ترمیم شي ممکن دا ډول ستونزې حل شي. خلیلزاد په دې لیکنه کې د طالبانو له لوري د شخصیتونو د تروررولو یا وژنو د عواملو یادونه هم کړې ده.

زلمی خلیلزاد وایي په وروستیو دوو میاشتو کې په افغانستان کې پر له پسې تروررونه کېږي.دا لړی په تخار کې د جنرال داوود داوود له وژلو پیل شوه، وروسته دولسمشر ورور احمد ولي کرزی، د کندهار ښاروال غلام حیدر حمیدي او د اروزګان پخواني والي جان محمد خان یو په بل پسې ووژل شول.

د څو نورو شخصیتونو د وژلو هڅې هم وشوې لکه د هلمند د والي ګلاب منګل او حتې د ولسمشر کرزي.

د ولسمشر کرزي د وژلو هڅه په کندهار کې هغه مهال وشوه چې یوه تن په لونګۍ کې د احمدولي په فاتحه کې جومات ته بم یووړ خو ولسمشر حامد کرزي د احمد ولي کرزي د جنازې او دعا له مراسمو وروسته کابل ته لاړ او ویې نه غوښتل چې د فاتحې لپاره په کندهار کې پاتې شي خو غالباً د جومات د حملې اصلي هدف ولسمشر و.

د دغو وژنو دقیقه انګېزه او د هغو تر شا اصلي لاس لرونکي څرګند نه دي. خو ګوته طالبانو ته نیول کېږي چې د دغو وژنو د مسوولیت ادعاوې یې کړې دي.

ترور ته د مخه کولو مانا ښایي دا وي چې طالبانو منلې چې په تېرو دوو کلونو کې امریکایي او افغان ځواکونو د بلوا پر ضد په خپلو عملیاتو کې پرمختګ کړی دی.له کله چې ولسمشر بارک اوباما د افغانستان جنوب ته اضافي قواوې لېږلې د بلوا پرضد د دوی عملیاتو، چې د افغانستان د پرمختلونکي امنیتي ځواک له ملاتړه برخمن وو، طالبانو ته د پام وړ ګوزار ورکړی دی.اوس طالبان له امریکایي او افغان پوځیانو سره په جګړه کې سختې ستونزې لري نو پر ځای یې هڅه کوي چې پر ملکي سیمو بریدونه وکړي.دوی د مشهورو او مهمو افغان چارواکو پرضد حملې متمرکزې کړې دي.

د ملګرو ملتو پراساس د طالبانو له لوري هدفمنې حملې یا د شخصیتونو تروررونه له ۲۰۰۹ څخه په سلو کې سل زیاتې شوې دي.

زلمی خلیلزاد په دوام کې لیکي: طالبان ښایي په دې ډول حملو کې دوه هدفونه په نظر کې ولري. لومړی، د سیمې او هیواد د بې ثباته کولو په وسیله هڅه کوي چې خپلې هغه ناکامۍ جبیره کړي چې په تېرو دوو کلونو کې یې کړې دي او له بلې خوا په ټول هیواد په ځانګړي ډول په جنوب کې سیاسي شخصیتونه له منځه یوسي.

خلیلزاد همداراز لیکي: طالبان په دې توګه غواړي چې د افغانستان په حکومت او نړیوالې ټولنې کې اعتماد له منځه یوسي او د قدرت خلا رامنځته کړي. دوی همداراز د کرزي د نژدې او کلیدي کسانو په وژلو سره غواړي وښیي چې لا هم د حملو او جدي ګوزار ورکولو توان لري.

خلیلزاد دا تروررونه د افغانستان د اوسني سیاسي وضعیت په رڼا کې جدي ګواښ ګڼي او وړاندې وایي چې د اوباما حکومت د خپل واک په لومړي کال له حامد کرزي سره په خپل چلند کې جدي تېروتنه وکړه.ده منفي عکس العمل وښود. تر هغه څه چې مخکې اټکل کېدو د حربي ځواکونو په ایستلو کې د چټکوالي په باب د امریکا د حکومت پرېکړې حالات نور هم خراب کړل او د اوږدې مودې پرستراتیژیکو همکاریو خبرې یې په ټپه ودرولې.

خلیلزاد لیکي: اکثره افغانان وېره لري چې د امریکا متحد ایالتونه به یو وار بیا افغانستان ته هغسې شا واړوي چې له دې هیواده د پخواني شوروي اتحاد د پوځونو له وتلو وروسته یې اړولې چې دښاغلی خلیل زاد نظرتر یوځایه سم دی خو یواځې په بهرنی ملاتړ هم نه کېږی ترکومې به نړی وال دلته حضور لری افغانان باید په خپلو متو نور خپل هیواد وساتی اوپرنږدی چې نورود د سیسو ښکار شی اوپدی لارکې باید په ټولیزه توګه هر اړخیزی هسی وکړو تر ټولو اړینه داده چې دولس اوحکومت ترمنځ واټن راکم کړو تر څو دولس باور پرخپل دولت پیدا شی.

خوا دولت هم له ګڼو ستونزو سره مخامخ دی. او ولس هم نپوهېږي چې حکومت یې د مهمو او کلیدي مسایلو په برخه کې په کوم لور روان دی.

خلیلزاد په دې برخه کې د ولسي جرګې او اختصاصي محکمې جنجال او د کابل بانک لانجې ته اشاره کوي او وایي چې د یوې برخلیک هم څرګند نه دی.

په افغانستان او ملګرو ملتو کې د امریکا پخوانی سفیرد پاکستان په اړه بیا وایي چې ولسمشر کرزی په وروستیو کې له پاکستان سره د اړیکو د ښه کولو په هلوځلو کې بریالی شوی نه دی او اسلام اباد لا هم له وسله والو سره د ملاتړ پر پالیسی ټینګار لري.ډېر افغان چارواکي وروستي تروررونه له پاکستان سره بې ارتباطه نه بولي. ایران هم داسي ښکاري چې د هغو کسانو ملاتړ کوي چې د امریکا مخالفت کوي او دا کار احتمالاً له پاکستان سره په هماهنګۍ کې کوي ښاغلی خلیلز ښه موضووع تا اشاره کړی خودایی نه دی ویلی چې نړی واله ټولنه او په ځانګړی توګه امریکایان پدی هکله څه مسؤلیت لری که نه اوهغه جګړه چې دتروریزم تر نامه لاندی یی شروع کړی یواځی په افغانستان کې کوی که تمویلکونکی او روزونکی هم پدی قطار کې راځی که چېری یی تمویلونکی اوروزونکی هم پدې قطار کې راځی نو نړی والو تر اوسه پدی هکله څه کړي که نه، که یې نه وي کړي د تروریزم سره داجګړه څه مانا لری اوپایله به یی څه وی.

خو زلمی خلیلزاد خنډونو له یادولو او پر هغو د اندېښنې له څرګندولو وروسته وړاندیز کوي چې په لومړي قدم کې دې د اوباما او کرزي د حکومتونو ترمنځ په اړیکو له سره غور وشي او اوس چې په افغانستان کې د امریکا سفیر بدل شوی نو ښه فرصت دی چې راین کرارکر او جان الن دا کار وکړي.دوی باید د اوباما پر اداري د کرزي بې اعتمادي پای ته ورسوي.

خلیلزاد په پای کې وایي د اوس لپاره د طالبانو له لوري هدف داره قتلونه ستونزه ده خو که افغانستان او امریکا په خپلو اړیکو کې ژور بدلون راولي د دې ستونزې مخه نیول کېداي شی سوال دادی چې ایا دا وژنی دهمدی لپاره کېږی چې ولسمشر کرزی دامریکا ټولې مشروع اونا مشروع غوښتنې ومنی اوکه نه نو دا ډول پیښی به تکرارېږی دښاغلی خلیلزاد له خبرو داسی ښکاری چې ددی ټولو پیښو تر شا دامریکا لاس دی اوترکومې چې امریکا راځی نه وی دالړی به روانه وی که داسی وی نوروانه جګړه هم تر سوال لاندی راځی او د مخالفینو دی خبری ته حقیقت وربښی چې امریکا په سیمه کې خپل اهداف لری او ترکومې چې هغه اهداف نه وي ترلاسه کړی دا جګړه به روانه وی او طالب اوالقاعده هسی یوه بهانه ده.

انکشافات جدید در مورد تقویه پروسهٔ صلح

(ادامهٔ از صفحه اول)

انتقال مسؤلیت های امنیتی در هفت ولایت آغاز گردید و تا اخیر ماه سرطان سال روان نیروهای داخلی، مسؤلیت امنیتی ولایات بامیان، لغمان، شهر لشکرگاه، هرات، بلخ، پنجشیر و کابل به استثنایی ولسوالی سروبی، را بعهده میگرفتند ناگفته نماند که خروج نیروهای خارجی و انتقال مسؤلیت های امنیتی به نیروهای داخلی، لازم و ملزوم یکدیگر اند، زیرا هر منطقه ایکه نیروهای خارجی از آنجا خارج می شوند، بخاطر عدم احساس خلای امنیتی و جلوگیری از تحرکات مخالفین مسلح، ایجاب می کند که نیروهای داخلی در آنجا حضور یافته و از بوجود آمدن بی امنیتی جلوگیری نمایند.

از جانب دیگر خروج نیروهای خارجی از بعضی ولایات، زمینه خوبی برای تسریع پروسه صلح می باشد، زیرا یکی از شرایط مخالفین مسلح برای مصالحه در گذشته و حال، خروج نیروهای خارجی بوده و حالا که آنها خروج تدریجی شان را آغاز کرده اند، خود بخود شرایط برای برقراری تماس و آغاز گفتگو با آنها مساعد شده است.

برگزاری کنفرانس دوم بن که قرار است در آن در مورد مشارکت مخالفین مسلح در قدرت و ادامه کمک های جامعه جهانی پس از سال ۲۰۱۴ با افغانستان، تصامیم مهمی اتخاذ شود، مولفه دیگری برای تسریع پروسه صلح می باشد، لهذا هر دو طرف قضیه مکلف اند تا قبل از برگزاری کنفرانس، گفتگوهای مقدماتی شان را در مورد تسوید یک مکانیزم جامع مشارکت، آغاز نمایند و روی نکات مهم آن به توافق برسند. کنفرانس بن به میکانیزم توافق شده مهر تائید گذاشته و به آن ضمانت بین المللی می بخشد.

حذف اسمای ۱۴ نفر از فعالین مخالفین مسلح از لست سیاه شورای امنیت ملل متحد به پیشنهاد شورای صلح، مولفه دیگری است که مخالفین را تشویق می کند تا با کنار گذاشتن تردد و سوء ظن نسبت به جامعه جهانی، با اطمینان بیشتر وارد عرصه مذاکره شوند و در صورت همکاری بی جانبه آنها در تأمین صلح، امکان دارد، اسمای باقیمانده رهبران آنها نیز از لست سیاه ملل متحد حذف شوند اگر چه اسمای افرادیکه اخیراً از لست سیاه حذف شده اند، اغلب شان در کابل بسر برده و بعضاً در ارگان های رسمی دولت وظیفه دارند، بناءً این کار تأثیر چندانی بر موضعگیری مخالفین نخواهد داشت، ولی بهر صورت این اقدام نیز بی تأثیر بر تسریع پروسه صلح نمی باشد.

مزید بر انکشافات نامبرده در عرصهٔ صلح، اظهارات اخیر هما سلطانی نمایندهٔ مردم غزنی در پارلمان و مولوی عبدالبصیر سابق فرمانده مجاهدین از ولایت کندز، مبنی بر آمادگی ملا محمد عمر رهبر طالبان برای مذاکره با دولت، سفر هیئت شورای عالی تحت سرپرستی استاد ربانی به دهلی جدید، فراخوان اخیر حامد کرزی از مخالفین برای پیوستن به پروسه صلح و حادثه، ترور احمد ولی کرزی در قندهار، تحولات دیگری اند که هر کدام به نوبه خود در مورد پروسه صلح تاثیرات خود را بجا می گذارند.

هما سلطانی و مولوی عبدالبصیر طی کنفرانس خبری به صراحت اعلان داشتند که آنها با ملا محمد عمر آخند از نزدیک به تفصیل ملاقات کرده اند و توافق او را کتباً غرض مذاکره با حامد کرزی با خود آورده و به دفتر رئیس جمهور تسلیم داده اند، ولی بنابر اهمال نزدیکان رئیس جمهور و بیعلاقه گی شورای عالی صلح نسبت به اظهارات این دو نفر شک و تردید روا داشته، و می گویند که نشاید که این وساطت نیز از نوع وساطت های سال گذشته ملا منصور دوکاندار شهر کویته باشد که به بهانهٔ مذاکرات صلح و به نمایندگی از رهبر طالبان، مبلغ گزافی را از کیسه دولت و خارجی ها ربود و در اخیر هیچ نتیجه به آن مرتب نگردید.

سفر هیئت شورای صلح تحت سرپرستی استاد ربانی به دهلی جدید، حاکی از تلاش های شورای مزبور برای جلب توافق طرف های ذیدخل قضیه است، مقامات هندی از خروج نیروهای خارجی و داشتن دست بالای پاکستان در مذاکرات صلح دولت افغانستان با طالبان، نگرانی دارند و برعکس سهم گسترده هند در بازسازی افغانستان اسباب نگرانی پاکستان را باعث گردیده است، زدودن این نوع نگرانی ها از اذهان مقامات کشورهای همسایه و کشورهای منطقه، بخشی از مسؤلیت های شورای عالی صلح را تشکیل می دهد که درین اواخر با جدیت تعقیب می گردد.

ترور احمد ولی کرزی به زعم منابع مربوط به شورای صلح وعده ای از صاحب نظران تا حدی به روند صلح تاثیر منفی بجا می گذارد، زیرا احمد ولی کرزی از چند سال به این طرف از طریق تماس با طالبان، زمینه های گفتگو و مصالحه با آنها را مساعد کرده بود و در فقدان او طبیعی است که این پروسه خدشه دار می شود، ولی فراخوان جناب حامد کرزی در مراسم خاک سپاری برادرش از طالبان غرض پیوستن به پروسه صلح و قطع جنگ و خون ریزی، یکبار دیگر بر این واقعیت صحه گذاشت که زعامت دولت افغانستان با وجود بعهده گرفتن مسؤلیت قتل احمد ولی کرزی از جانب طالبان، بر موقف صلحجویانه خود تأکید دارد و دست داشتن احتمالی طالبان درین حادثه و نیز پروپاگند حلقات مخالف صلح، هیچگونه تاثیر در پیگیری برنامه های آشتی جویانهٔ دولت با مخالفین مسلح ندارد.

د روژې مقصد

محمد خلیل

الله جل جلاله په قرآن کریم کې د روژې اصل مقصد دا بیان کړی دی چې په دې میاشت کې مؤمنان تقوی او پرهیزګاري ترلاسه کړي. خو زموږ له کړنو نه دا راڅرګندېږي چې موږ د تقوی له دې ستر نعمت څخه کله هم خپلې خولې نه دي ډکې کړې.

په قرآنکریم کې د روژې اصل مقصد او لب لباب تقوی ښودل شوې ده لیکن ډېر افسوس چې نه پخپله د روژې په میاشت کې او نه هم له هغې وروسته د تقوی فضا او آثار چېرته نه لیدل کېږي.

د تقوی لغوي معنی ده له حرامو او ټولو بدو کارونو څخه ډډه کول، ولې موږ پخپلو سترګو وینو چې زموږ په ټولنه کې د روژې په میاشت کې حرام او ناروا کارونه دپخوا په څېر ښه په درز کې روان او جاري دي، نه رشوت کمېږي او نه غلا، ډاکې، غصب، ظلم، ناروا، غیبت، جنګ، کنځلې، لوټې، بداخلاقي، کینه، حسد، دښمني، ورور وژنه او داسې نور غلط کارونه.

ددې پر ځای چې د روژې په میاشت کې خوراکي توکي او نور ضروري شیزونه ارزان شي نور هم ګرانېږي، ددې پر ځای چې صبر، زغم او لورینه زیاته شي هر چېرته د جنګونو او بدو ردو میدان ګرم وي، تجاران، دکانداران، قصابان، ترافیک او ددوی په څېر نور خلک کوښښ کوي چې خلک په دوارو لاسو ولوټي.

که موږ واقعاً روژه د تقوی او پرهیزګاري د ترلاسه کولو په مقصد نیولای نو بیا به په افغانستان کې د بې اتفاقۍ، اور بل نه و، قومي، ژبني او سمتي اختلافونو لمنه به نه وه پراخه شوې، پخپلو کې به مو د یو بل په خلاف توره او ټوپک نه و اوچت کړی، د یو بل له وژلو څخه به مو خوند نه اخستلو، له بیت المال څخه به مو غبن او غلا نه کوله، د یو بل د پرزه ولو او محوه کولو ناروا پلانونه به مو نه جوړول، د یو واحد امت پر ځای به په ګنو ډلو ټپلو نه وو ویشل شوي، د یو شعار پر ځای به مو ګڼ شعارونه او دریځونه نه وو خپل کړي.

په خوله خو د طوطي په څېر د روژې ډېرې ګټې او ښېګړې بیانوو مګر د عمل په ډګر کې د هغې چېرته څرک قدرې هم نه لیدل کېږي، آخر څه وجه ده چې موږ د روژې له برکتونو څخه ګټه نه شو اوچتولې؟ ددې څرګند ځواب همدا دی چې موږ روژې د تقوی د ترلاسه کولو په نیت نه بلکې دهغې ظاهري شکل د پوره کولو لپاره نیسو، د سهار له آذان نه مخکې تر ماښامه پورې پر ځان خوراک څښاک خو بندوو، مګر له نورو بدو او حرامو کړنو څخه لاسونه، پښې، ژبه او سترګې نه بندوو په داسې حال کې چې له ټولو بدو کارونو څخه بندیدل ضروري دي او د یو مؤمن روژه تر هغې د الله په وړاندې د قبولیت مرتبه نشي ترلاسه کولې تر څو پورې چې له ټولو حرامو او ممنوع کارونو څخه نه وي بند شوی.

راځئ له خپل پالونکي ذات سره ژمنه وکړو چې خپلې روژې به په هغه معیار برابرې نیسو چې الله جل جلاله او دهغه رسول محمد صلی الله علیه وسلم د نیولو لارښوونه کړې ده او هغه تقوی به ترلاسه کوو چې د ترلاسه کولو امر یې کړېدی.

که موږ واقعاً د تقوی په ګاڼه سنبال شوو او زموږ په زړونو کې د الله ویره ځای ونیسي نو له څه شک پرته ډېر ژر به له ټولو غمیزو، اندېښنو او بدبختیو څخه خلاصون ترلاسه کړو، ځکه چې تقوی یواځینی قوت دی چې انسان له ټولو ګناهونو څخه بچ کوي او الله تعالی له هغو خلکو سره د مرستې وعده کړې چې متقیان وي لکه چې په خپل کلام قرآن کریم کې فرمایلي یې دي:

بېشکه الله له هغو خلکو سره ملګری دی چې تقوی دار او نیکو کاران وي. لوی الله دې موږ ته هم د تقوی د ترلاسه کولو توفیق را په برخه کړي. آمین

افغانستان د نړیوالو رسنیو په هنداره کې

اندیپینډنټ:

اندیپینډنټ ورځپاڼې په خپله وروستۍ ګڼه کې په میدان وردګ ولایت کې د ناټو د هیلې کوپترد رالوېدو په اړه لیکلي:

د امریکا د هغې ځانګړي ځواک سرتیري په دغې هیلیکوپتر کې سپاره وو چې په تیره مې میاشت کې یې اسامه بن لادن وواژه.

ورځپاڼه لیکي:

تر دې دمه دا نه ده روښانه، چې دا هیلیکوپتر څرنګه رالویدلې ده، امریکایي قومندانان وایي په دې پېښه کې وژل شوي سرتیري هم هغه عسکر نه وو چې د پاکستان په ایبټ اباد کې یې اسامه بن لادن وواژه.

خو د مطلب د لیکونکي په وینا په افغانستان کې په عملیاتو کې د خاصو امریکایي ځواکونو زیات فعالیت د هغې نا سمې تګ لارې څرګندویه ده چې دا جګړه یې پر اساس ترسره کیږي.

اندیپینډنټ وايي:

دا ډول جنګي تکتیک چې ونیسه او ووژنه لکه پر اساس یې چې اسامه بن لادن ووژل شو د افغانستان په روانه چریکي جګړه کې مناسب نه ده.

د ورځپاڼې په وینا دا یو کورنۍ وسله وال فعالیت دی نه دا چې له بهر څخه پلان شوي وي.

د مطلب لیکونکي وايي:

په افغانستان کې دا ډول جنګي تکتیک چې ونیسه او ووژنه مناسبه نه ده



د افغانستان له لس کلنې جګړې څخه د ناټو د وتلو لپاره یوازینی لار ښایي له طالبانو سره روغه جوړه وي.

د ورځپاڼې په وینا په افغانستان کې د عملیاتو پر مهال د خاصو ځواکونو د رول پراخوالی په دې معنا ده چې اوس هم د

امریکا پوځي قومنده په دې باور دي چې د مار د سر په غوڅولو به کامیابي ترلاسه شي.

نیویارک ټایمز:

نیویارک ټایمز ورځپاڼې هم په میدان وردګ کې د امریکایي ځواکونو د هیلیکوپتر د رالوېدو په اړه چې دیرش عسکر په کې ووژل شوه مطالب خپاره کړي دي.

خو نیویارک ټایمز بیا په دې باور ده چې د خاصو امریکایي ځواکونو عملیات د افغانستان د جګړې د ستراتیژۍ مهم عنصر دی چې کولای شي په هغو لرې پرتو سیمو کې عملیات وکړي چې پیاده ځواکونه هلته نه شي ورتلی.

نیویارک ټایمز زیاتوي:

کله چې په راتلونکو څو میاشتو کې له افغانستان څخه نړیوال ځواکونه ووځي نو د خاصو ځواکونو عملیات به نور زیات اهمیت پیدا کړي ځکه چې هغه مهال بیا به ناټو د سرتیرو د کموالي ستونزه ولري.

واشنګټن پوسټ:

واشنګټن پوسټ ورځپاڼې بیا د دغې پېښې په اړه د افغانستان د دفاع د وزارت د ویاند ظاهر عظیمي خبرې نکل کړي چې وايي، په میدان وردګ کې ترسره شوي عملیات عادي ماموریت وو، چې زیاتره د افغان او ناټو ځواکونو له خوا په ګډه کیږي.

ناټو تر دې دمه دا نه ده تائید کړې، چې هیلیکوپتر د طالبانو په ډزو کې نسکوره شوی دوي وایي، د دې پېښې په اړه تحقیقات روان دي.

واشنګټن پوسټ لیکي:

د خاصو ځواکونو عملیات نه یوازې امریکایي بلکه ټولو ځواکونو په خاصه توګه افغان لوري ته چې هوایي ځواک نه لري زیات اهمیت لري او له دغو عملیاتو ملاتړ کوي.

ما به تلاش های خود در ...

عمیق اش را در مورد کشته شدن ۳۰ سرباز امریکایی ابراز داشته و همدردی اش را با مردم امریکا ابراز داشت.

رییس جمهور امریکا بارک اوباما سقوط طیاره در ولسوالی سید آباد میدان وردک و کشته شدن ۳۰ سربازش را تاثر انگیز خوانده و خدمات آنها را ستایش کرد و در جواب به ابراز تاثر رییس جمهور کرزی، ویرا به سبب کشته شدن هفت سرباز یک ترجمان افغان تسلیت داد.

قصر سفید گفته است، رهبران دو کشور روی تلاش های کشور های شان تاکید نموده و ماموریت نیروهای امریکایی در افغانستان را برای تامین امنیت از نقش کلیدی برخوردار دانستند.

در این حال پیمان ناتو روز گذشته در یک اعلامیه منتشر شده گفت، سی سرباز امریکایی و هفت عسکر افغان که به روز یکشنبه در اثر سقوط هلیکوپتر در شرق افغانستان کشته شدند، در یک ماموریت دخیل بودند که هدف آن، یک رهبر طالبان بود.

در اعلامیه ناتو گفته شده است که یک شورشی این هلیکوپتر را با راکت انداز هنگامی هدف قرار داد که این طیاره، نیروهای امریکایی و افغان را به محل انتقال می داد که در آن، درگیری ها بین شورشیان و نیروهای خارجی جریان داشت.

ښایي امریکا بله لسیزه هم له ...

اداري لوړ رتبه چارواکي وايي، له کلونو وروسته د القاعده شبکې د منځنی او لوړې درجې چارواکو په ښه کول ګټور ثابت شول.

فارن پالیسي خپرونه زیاتوي، دا نظر یو ډېر خوشبینانه انځور ښیي، واقعیت دا دی چې د سپټمبر تر یوولسمې وروسته تروریستي ګواښ له نویو شرایطو او وضعیت سره همغږي شوی دی. داسې شواهد نه ښکاري چې د سخت دریځو کمېدل ثابت کړي، دا هغه کسان دي چې امریکا ته یې ګواښ متوجه کړی دی.

په تېرو دریو کلونو کې د القاعده شبکې د غړو د هدفي وژنو د پالیسۍ له عملي کېدو سره- سره په عرب ټاپووزمه کې القاعده شبکې د پاشلو ځانګو په توګه ظهور کړی دی.

د خپرونې په باور، په داسې حال کې چې پنیتا او نورو امریکایي چارواکو اعتراف کړی چې د القاعده شبکې منفردې ځانګې امریکا ته زیات خطر پېښولای شي، دا اعلان چې ګواکې "د القاعده شبکې ماتې رانژدې شوې ده" د دې مساوي یا هم ښایي خطرناک دښمن اهمیت پیکه کړي.

کله چې د امریکا بې پېلوټه الوتکې د پاکستان په قبایلي سیمه وزیرستانونو او افغانستان کې عملیات کوي، د القاعده مشران نسبتاً په سادګۍ په یمن کې فعالیت کوي، دوی هلته پر یمني او بهرنیو اهدافو حملې کوي.

ځینې سخت دریځي ادعا کوي چې د بې پیلوټه الوتکو په وړاندې د مبارزې لپاره له پرمختللې ټکنالوژۍ کار اخلي او د دغو الوتکو کمپیوټري سیستم یې هک کړی دی، دوی د ځینو نسکورو شویو بې پیلوټه الوتکو انځورونه هم پر انټرنټ ایښي دي، دوی ځینې داسې پروګرامونه هم پېشنهاد کړي چې ورته لیکلي "یوه بې پیلوټه الوتکه څنګه راغورځولای شو."

فارن پالیسي خپرونه په پای کې لیکي، شاید القاعده شبکه لکه څنګه چې موږ په تېرو لسو کلونو کې پېژندله، نوره پاتې نه وي، خو داسې ښکاري چې امریکا به بله لسیزه هم ورسره په جګړه اخته وي.

په راتلونکې یوه میاشت کې ...

کې جوړه او د وزیرانو شوار ته ولېږل شي.

نادره حیات برهاني دا مقرره یو اغېزمن تقنینیه سند بولي او وایي، چې په پلي کېدو سره به یې روغتونونه روغتیایي معیارونو، خپلو تجهیزاتو او د خدمتونو کیفیت ته په کتو له ناروغانو فیس اخلي.

دا په داسې حال کې ده، چې یو شمېر خلک په هېواد کې په شخصي روغتونو، کلینیکونو او د ډاکټرانو په کتنځایونو کې د ډېرو پیسو له اخیستو او په روغتیایي مرکزونو کې له ناسمې درملنې سرټکوي.

د عامې روغتیا وزارت د مرستیالې په وینا، دا مهال په هېواد کې ۲۰۲۰ روغتیایي مرکزونه فعال دي، چې تر ۷۰ سلنې ډېر یې ښځینه روغتیایي کارکوونکې لري.

د دې د معلوماتو له مخې، په ۱۳۸۱ کال کې په ټول افغانستان کې ۴۴۰ قابلې وې؛ خو اوس دغه شمېره ۳۰۰۰ ته لوړه شوې ده.

جنرال الن: د با ثبات او خپلواک ...

سولې لپاره قرباني کړ، د احترام او دعا مراتب وړاندې کړم."

نوموړي زیاته کړه، نن دلته د دې لپاره راټول شوي، چې امریکایي او افغان پیاوړي سرتېري وویاړي، څوک چې د ازادۍ او د دواړو هېوادونو د ولسونو د امنیت د ګډ دښمن پر وړاندې جنګېدلي دي.

جنرال الن د سیداباد په پېښه کې د وژل شویو امریکایي او افغان سرتېرو کورنیو او دوستانو ته د تسلیت مراتب وړاندې کړي او ویلي یې دي، چې د دوی قرباني به تل یاد وساتل شي.

هغه زیاته کړې: "موږ به پر ګډ دښمن نه ستړې کېدونکو فشارونو ته ادامه ورکوو، دغه راز موږ به د افغان ملي ځواکونو د پرمختګ او پیاوړي کولو لپاره هم جدي اقدامات کوو، څو دوی وکولای شي، چې خپل مخالفین وځپي او خپل ولس او تاریخي هېواد کې سوله او ثبات رامنځته کړي."

جنرال الن ویلي، چې دوی پر خپلو ژمنو اوس هم ولاړ دي او په راتلونکي کې به هم ولاړ او بریالي وي.

د امریکا اقتصادي رتبه له ...

ثبات لپاره یوه همغږي اقدام ته ژمن دي.

په عین حال کې "شل ډلې" غړو چې د نړۍ له شلو پرمختللیو صنعتي هېوادنو څخه جوړه ډله ده، ویلي دي چې د مالي بازارونو د ثبات او د اقتصادي پراختیا د ساتنې لپاره ګډ اقدام ته تیار دي.

دا اندېښنې هم شته چې احتمالاً هسپانیا او ایتالیا به د ایرو زون په اقتصادي بحران کې ښکیل شي . د اورپا مرکزي بانک په دې اړه په یوه اقدام لاس پورې کړی دي چې پر اساس یې د هسپانیا او ایتالیا د حکومتونو د مالي پاڼو یا سندونو رانیولو ته تیاری ښوولی دی.

له دې اقدام سره په اورپایي بازارونو کې د ورځې په پیل کې په معاملو کې کموالی راغی او د اسهامو ارزښت یو څل بیا پیاوړی شو خو د اسیایي بازارونو لپاره اوبه له ورخه تېرې وې، دغلته د اسهامو ارزښت کم ښوول شوی و.

په عین حال کې په واشنګتن کې د امریکا د خزانې وزیر تیموتي ګیتنر د اقتصادي اعتبار سنجونې پر موسسې، ستندرد ایند پورز انتقاد وکړ او د یکشنبې په ماښام یې وویل ، دې موسسې د متحد ایالاتو د اقتصادي رتبې په کمولو سره په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره بد قضاوت کړی دی.

طرح جدید ایران برای اخراج ...

صورت یکجانبه، به این کار اقدام نماید.

وی افزود: "یک ماه قبل، طرحی از سوی ایران به ما رسید که درآن گفته شده بود: مهاجرینی که اسناد قانونی ندارند، به افغانستان برگردند؛ در آن صورت ایران حاضر است به آنان ویزای کار بدهد."

به گفتهٔ جرئت، ایران در نظر دارد حدود یک میلیون و چهارصد هزار مهاجر افغان را که به صورت غیرقانونی در ایران زنده گی می کنند، به افغانستان برگرداند.

رئیس اطلاعات و ارتباط عامهٔ وزارت امورمهاجرین افزود که این طرح، از ابتدای ماه اسد سال روان آغاز شده است و تا کنون تعدادی از خانواده های مهاجر، به کشور بر گردانده شده اند.

یک منبع در ادارهٔ مهاجرین هرات که نخواست نامش ذکر شود، به آژانس خبری پژواک گفت که روزانه ده ها تن از مهاجرین شامل این طرح، به افغانستان بازگردانده میشوند و این اداره نگران است که افزایش شمار این مهاجرین، باعث بروز مشکلات در کشور شود.

مطابق آماری که به نقل از علی عبداللهی، معاون امنیتی وزارت داخلهٔ ایران به نشر رسیده؛ درحال حاضر حدود یک میلیون مهاجر که بیشتر با خانوادهٔ شان هستند، به صورت قانونی؛ و نزدیک به دو میلیون مهاجر افغان به صورت غیرقانونی درایران زنده گی می کنند.

دغه رنګ مو ناسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت اوونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۸۰۹۸۳۰۸

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالېږل شوي مطالب نه مستردېږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com